# شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه
تأسیس: ۱۳۹۴ ه ل
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت

د صفر المظفر ۸-۱۴۴۷ ل س | د زمري ۱۱-۱۴۰۴ ل ل | د اگسټ ۲-۲۰۲۵ ز

پنځم کال | ۱۴۶ گڼه | ٤ مخيزه | ۱


**د قیامت نښه**

**ژباړه: له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دئ، چي رسول الله ﷺ وفرمایل:**
کله چي امانت ضایع کړل سي؛ نو د قیامت انتظار کوئ. یو چا وپوښتل: اې د الله رسوله! د امانت ضایع کول څه معنی لري؟
نو هغهٔ ﷺ وفرمایل: کله چي واک او کار د داسي چا په غاړه واچول سي، چي اهل ئې نه وي؛ نو د قیامت انتظار کوئ.
[رواه البخاري ٥٩]

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

# د هیواد د گمرکونو مسئولینو د افغانستان اسلامي امارت له رئیس الوزراء سره وکتل






د هیواد د گمرکونو رئیسانو د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند او د گمرکونو لوی رئیس الحاج مولوي محمد حامد احمد په شتون کي د افغانستان اسلامي امارت له رئیس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخوند سره وکتل.

په پیل کي د مالیې وزیر د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء ته په ښه ډول د ورځنیو چارو د تر سره کولو په اړه ډاډ ورکړ او ور پسې د گمرکونو د رئیسانو په استازیتوب د گمرکونو لوی رئیس وویل، چي گمرکي عواید ورځ تر بلي د زیاتېدو په حال کي دي او په پوره شفافیت سره بیت المال ته سپارل کېږي. د هیواد په گمرکونو کي مو کاري وخت زیات کړی، چي له دې سره په سوداگرۍ کي زیاتوالی راغلی او سوداگریز توکي پر خپل وخت سره طی مراحل کېږي.

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء د گمرکونو د مسئولینو له صادقانه کړنو څخه د مننې او قدردانۍ تر څنگ، له ولس او په ځانگړي ډول له سوداگرو سره د ښه چلند په برخه کي د گمرکونو مسئولینو ته لازمي سپارښتني وکړې.

د یادولو ده، چي د هیواد د گمرکونو مسئولین د گمرکي چارو د لا ښه والي په موخه د مشورتي ناستي له پاره پلازمېني کابل ته را بلل سوي ول.

# د باغ بالا په سیمه کي د تفریحي پارک جوړولو تړون لاسلیک سو




د مالیې وزارت او حبیب الله ځاځي شرکت ترمنځ د باغ بالا په سیمه کي د تفریحي پارک د جوړولو تړون لاسلیک سو.

په همدې تړاو جوړه سوې ناسته کي د مالیې وزارت اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د چارو اداري لوی ریاست د امارت د پالیسۍ مرستیال مولوي عبدالباري عاطف او د حبیب الله ځاځي شرکت رئیس گډون درلود.

د مالیې وزارت اړوند د کابل په ښار څلورمه ناحیه کي د باغ بالا تفریحي پارک د سیمي تړون، چي قرار داد ئې د عامه او خصوصي مشارکت له لاري د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د (۴۰٦) گڼې او (۱۴۴۷/۱/۲۰) نېټې حکم پر بنسټ مخکي منظور سوی وو؛ لاسلیک سو.

دغه تفریحي پارک، چي مساحت ئې (۱٦۰) جریبه دئ، تړون ئې د (۳٦٦،۸۹۲،۸۹۰) افغانیو په پانگوني سره د (۲۰) کلونو له پاره منظور سوی، چي (۲) کاله به ئې د ودانیزو چارو موده او (۱۸) کاله به ئې د گټې اخیستني موده وي. د شرکت د گټې اخیستني په موده کي ئې له ناخالصو عوایدو څخه د امارت ونډه (۳۱) سلنه او د شرکت ونډه (٦۹) سلنه ټاکل سوې ده.

د یادوني ده، چي د دغه تفریحي پارک په جوړولو سره به د کابل ښار په سمسورتیا سربېره، یو شمېر هیوادوالو ته د کار زمینه هم برابره او د ملي عوایدو په کچه کي به زیاتوالی راسي.

# د هیواد په څلورو گمرکونو کي د نږدې (۵) میلیونه افغانیو په ارزښت د سړو خونو د بیارغوني پروژه پیل سوه




د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د (۴،۹) میلیونه افغانیو په ارزښت د (هرات، نیمروز، خوست او ننگرهار) په گمرکونو کي د سړو خونو د بیا رغوني پروژه پیل کړه.

د یادو سړو خونو په رغېدو سره به د سبزیو، تازه مېوو، خوراکي توکو او درملو د خوندي او غوره ساتني په برخه کي سوداگرو ته گڼې اسانتیاوي رامنځته سي.

د دې پروژې لگښت د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي او چاري به ئې په درېیو میاشتو کي بشپړي سي.

د یادولو ده، چي د مالیې وزارت له لوري د هیواد د گمرکونو عصري کول، بیارغوني او سوداگرو ته د لا ډېرو اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه بېلابېلي پراختیایي پروژې پلي سوي او یو شمېر ئې د پلي کېدو په حال کي دي.

## سرمقاله

### تحولات اقتصادی و تجاری در افغانستان

تحولات اقتصادی و تجاری به تغییرات عمده‌ای اشاره دارد که بر ساختار و عملکرد اقتصاد و تجارت تأثیر می‌گذارند. این تحولات نیاز به توجه و برنامه‌ریزی دقیق دارند تا کشورها بتوانند از فرصت‌ها بهره برداری کرده و چالش‌ها را مدیریت کنند. کنترول مرزها و مبارزه با قاچاق، ساخت زیربناها و کاهش هزینه های تجارت، افزایش ارتباطات منطقه ای و جذب سرمایه گذاری های خارجی، تسهیل تبادلات تجاری، تقویت تجاری و همکاری های اقتصادی با همسایگان برنامه های است که بخاطر تحولات اقتصادی و تجاری باید مد نظر گرفته شوند. امارت اسلامی افغانستان در تلاش است تا با اجرای مجموعه‌ای از اقدامات، تحولات اقتصادی و تجاری را در کشور تسهیل کند.

تحولات اخیر در زمینه اقتصادی و تجاری افغانستان نشان دهنده تغییرات مهمی است که می‌تواند تأثیرات عمیقی بر آینده این کشور داشته باشد. کشف و ضبط (۲٦۴) کیلوگرام زعفران ایرانی قاچاق در هرات، آغاز ساخت خط آهن قندهار-هرات و کاهش تعرفه‌های تجاری میان امارت اسلامی افغانستان و کشورهای همسایه، تماماً نشان دهنده تحولاتی هستند که می‌توانند به بهبود وضعیت اقتصادی افغانستان کمک کنند.

کشف زعفران قاچاق وضوح نشان دهنده چالش‌های موجود در کنترول مرزها و مبارزه با قاچاق کالا است. این موضوع نه تنها به امنیت اقتصادی کشور آسیب می‌زند، بلکه می‌تواند بر شهرت محصولات باکیفیت کشور های دیگر نیز تأثیر منفی بگذارد. در عین حال، این رویداد می‌تواند به عنوان یک زنگ خطر برای مقامات محلی تلقی شود تا اقدامات بیشتری برای پیشگیری از قاچاق انجام دهند.

از سوی دیگر، آغاز ساخت خط آهن قندهار-هرات در ولایت نیمروز یک گام مثبت در جهت کاهش هزینه‌های تجارت و افزایش فرصت‌های شغلی است. این پروژه می‌تواند به بهبود ارتباطات منطقه‌ای و تسهیل تبادلات تجاری کمک کند. با توجه به موقعیت جغرافیایی افغانستان، توسعه زیرساخت‌ها می‌تواند به جذب سرمایه‌گذاری‌های خارجی و رشد اقتصادی بیشتر منجر شود.

کاهش تعرفه‌های تجاری میان امارت اسلامی افغانستان و کشور های همسایه نیز حائز اهمیت است. این مسله می‌تواند به تسهیل صادرات و واردات کالاهای اساسی کمک کند و در نتیجه به بهبود وضعیت معیشتی مردم کمک خواهد کرد. با کاهش تعرفه‌ها، فرصت‌های جدیدی برای دهاقین و تولیدکنندگان داخلی به وجود خواهد آمد تا بتوانند محصولات خود را به بازارهای خارجی عرضه کنند.

به‌طور کلی، تحولات اخیر در افغانستان می‌تواند نویدبخش یک دوره جدید از رشد و توسعه اقتصادی باشد، اما برای رسیدن به این هدف، نیاز به برنامه‌ریزی دقیق، همکاری‌های بین‌المللی و پابندی به اصول تجارت منصفانه و قانونی می باشد.

**با احترام**

**اداره**

# د هرات په گمرک کي د (۲٦٤) کیلو گرامه ایراني قاچاقي زعفرانو له وارداتو څخه مخنیوی وسو

د هرات گمرک د گدام او تشرېح برخي کارکوونکو په یوې وارداتي محموله کي (۲٦٤) کیلو گرامه ایراني زعفران ونیول، چي قاچاق کوونکو غوښتل په قاچاقي ډول ئې افغانستان ته راوړي. یاد نیول سوي ایراني زعفران، چي په ډېر مهارت سره په یو یخچالي موټر کي ځای پر ځای سوي ول، قاچاق کوونکو غوښتل، چي بیرته ئې د افغانستان د زعفرانو په نوم بهرنیو هیوادونو ته صادر کړي. د یادولو وړ ده، چي نیول سوي زعفران او تورن کسان به د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ارگانونو ته ور وپېژندل سي.



دآقینې گمرک د موټرونو تمځای جوړ او گټې اخیستني ته وسپارل سو

م ۲




د روان مالي کال په لومړنۍ ربعه کي د گمرکي چارو تخنیکي ارزونه وسوه

م ۲




د چارو د لا همغږۍ په موخه د اداري معینیت د رهبرۍ ناسته وسوه

م ۲



یک مقدار مواد خوراکی تاریخ تیر در گمرک سرحدی اسلام قلعه حریق گردید

م ۳



جُرمي او تور اقتصاد

م ۳




افغانستان او پاکستان تر اوږدې مودې انتظار وروسته د «ترجیحي سوداگرۍ» تړون لاسلیک کړ

م ٤

شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

## تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده خارني کارکوونکو تېره اوونۍ د فراه، کندهار، نیمروز او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل له ګمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته وارد کړي.
په نیول سویو توکو کي (۹۱۷۸) کیلو ګرامه چاکلېټ، (۱۵۲۱۲) کیلو ګرامه انساني طبي درمل، (۴۷٦۵) کیلو ګرامه زراعتي درمل، (۳٦۰۰) کیلو ګرامه ښیښه يي مردکۍ، (۱۷۵۰) کیلو ګرامه اوړه، (۸۴۲) کیلو ګرامه د چلم مېوه، (۱۸۰) کیلو ګرامه نوې البسه، (۱۵۰) کیلو ګرامه د دېګ مساله، (۱۰۰) کیلو ګرامه انرژي باب، (۱۲۱) کیلو ګرامه رُب، (۹۰) کیلو ګرامه پلاستیکي کڅوړي، (۸۰) کیلو ګرامه شامپو، (٦۲) کیلو ګرامه تش کارټنونه، (۳۰) کیلو ګرامه ملايي او (۲۲) عرادې موټرسایکلونه شامل دي.
نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.
د یادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د ګرځنده خارني کارکوونکي په ټول هیواد کي ګرځنده څارنه کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## برای فارغان برنامه آموزشی بخش مالی و حسابی لوح تقدیر و تصدیقنامه اهداء گردید

ریاست عمومی خزاین وزارت مالیه برای مسئولین مالی و حسابی واحد های بودجوی که از برنامه آموزشی بخش مالی و حسابی فارغ گردیده بودند، طی مراسمی تصدیقنامه و لوح تقدیر اهداء نمودند.
در این مراسم حاجی عبدالقدیر احمد معین مالی، نصرت الله محمود رئیس عمومی خزاین، حبیب الله حبیب سباوون رئیس اجرائیه ریاست عمومی بودجه، مولوی عبدالهادی سیف الخالد رئیس دعوت و ارشاد و شماری دیگر از مسئولین اشتراك داشتند.
رئیس عمومی خزاین در مورد هدف و دستاوردهای برنامه آموزشی صحبت نموده افزود، واحد های بودجوی در بخش مالی با مشکلات زیادی روبرو بود و بخاطر رفع این مشکلات برنامه های متعددی راه اندازی گردید. لله الحمد این برنامه ها مفید و مثبت تمام شده و مشکلات و نواقص رفع گردید.
معین مالی وزارت مالیه طی سخنانش گفت، آگاهی و دانش یك امر مهم برای همه امور است. اسلام در کنار آگاهی و دانش به مهارت های عملی نیز تأکید می کند زیرا مهارت های مسلکی به افراد این امکان را می دهد که به جامعه خود خدمت کنند و نیاز های آنان را برآورده سازند. پس به این برنامه اکتفا نکرده و از هر طریق ممکن مهارت های خود را ارتقاء دهید.
رئیس اجرائیه ریاست عمومی بودجه ملی طی سخنانش گفت: بخش مالی به عنوان یکی از ارکان اصلی هر نظام اقتصادی، نقش حیاتی در توسعه، ثبات و رشد اقتصادی ایفاء می کند. آنچه را آموخته اید بخاطر جلوگیری از ضایعات و تأمین شفافیت هرچه بیشتر به همکاران تان انتقال دهید.
رئیس مالی و حسابی وزارت تحصیلات عالی به نمایندگی از اشتراك کنندگان برنامه آموزشی از دست اندرکاران برنامه متذکره اظهار امتنان نموده افزود که ما طی (۱۵) روز چیزهای زیاد را آموختیم که برای نظم امور مالی و تأمین شفافیت نقش اساسی دارند. وی خواستار ادامه همچون برنامه ها گردید.
در اخیر مراسم برای برگذارکننده گان و مسئولین مالی و حسابی واحد های بودجوی که این برنامه آموزشی را به موفقیت به پایان رسانیده بودند، لوح تقدیر و تصدیقنامه اهداء گردیده و مراسم با دعای خیر اختتام یافت.

## د آقینې ګمرک د موټرونو تمځای جوړ او ګټي اخیستني ته وسپارل سو

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د فاریاب ولایت د آقینې ګمرک د موټرونو تمځای د نږدې (۲۹) میلیونه افغانیو په ارزښت جوړ او ګټي اخیستني ته وسپاره.
د موټرونو دغه تمځای، چي په (۵,۵) جریبه ځمکه کي جوړ سوی او په اساسي ډول پکښې کانګرېټ اچونه سوې ده، ترڅنګ ئې شنه ساحه، د اوبو اساسي ویالې او د برېښنا سیستم هم لري.



د موټرونو دا تم ځای په یوه مهال د (۹۰) بار وړونکو موټرونو د درېدو ظرفیت لري، چي له دې وروسته به موټر چلوونکو، سوداګرو او د سوداګریزو توکو د تشریح په برخه کي د ګمرک کارکوونکو ته ګڼي اسانتیاوي رامنځته سي.
د یادوني وړ ده، چي د دې پروژې لګښت د ماليې وزارت له پراختیايي بودیجې څخه ورکول سوی او چاري ئې هم د یوه افغاني شرکت له لوري په نږدې یوه کال کي بشپړې سوې دي.

## د روان مالي کال په لومړنۍ ربعه کي د ګمرکي چارو تخنیکي ارزونه وسوه

د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د روان (۱۴۰۴هـ.ل) کال په لومړنۍ ربعه کي په ګمرکونو کي د تر سره سویو چارو د تخنیکي ارزوني ناسته د یاد معینیت د غونډو په تالار کي وسوه.
په دې ناسته کي د ګمرکونو لوی رئیس مولوي محمد حامد احمد، د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، یو شمېر رئیسانو، آمرینو او د ویډیو کنفرانس له لاري د ولایتي ګمرکونو مسئولینو ګډون کړی وو.
په پیل کي د ګمرکونو او عوایدو معین د ولایتي ګمرکونو د مسئولینو له صادقانه کړنو څخه مننه وکړه. نوموړي د بهرني ټرانزیټ، د تخلف د مخنیوي او د پرچون توکو په برخو کي د سته ستونزو یادونه وکړه او په دې اړه ئې د ګمرکونو مسئولینو ته اړیني سپارښتني وکړې.
ورپسې د ګمرکونو لوی ریاست د پلان جوړوني، پالیسۍ، څارني او ارزوني ریاست له لوري د روان کال په لومړنۍ ربعه او د همدې کال د غبرګولي په میاشت کي په ګمرکونو کي د تر سره سویو فعالیتونو په تړاو تولیز راپور وړاندي سو؛ په یاده موده کي د عوایدو راټولېدو، د هیواد په ټولو ګمرکونو کي د تر سره سوي سوداګرۍ، د وارداتي توکو ګمرکي ارزښت او د سوداګریزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه غونډې ته بشپړ معلومات وړاندي سول.
همدارنګه د چارو د لا پرمختګ په موخه د ولایتي ګمرکونو د مسئولینو ستونزي او وړاندیزونه واورېدل سول، چي د رهبرۍ له لوري د ستونزو د حل ډاډ ورکړل سو.




## د چارو د لا همغږۍ په موخه د اداري معینیت د رهبرۍ ناسته وسوه

د ماليې وزارت د اداري معین مولوي دوست محمد مخلص په مشرۍ او د اړوندو رئیسانو په ګډون د رهبرۍ ناسته د یاد معینیت د غونډو په تالار کي وسوه.
په دغه ناسته کي د وزارت مرکزي او ولایتي برخو د معتمدینو د تضمین او معاش، د اړیکو او معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست ته د پروژو د نیازمندۍ وړاندي کولو او مشخصاتو د غوښتني، له تخنیکي ریاستونو پرته نورو ریاستونو ته د سافټویر ډیویلپر د ورکړي پر څرنګوالي، د کارکوونکو د ظرفیت لوړوني په موخه د آی ټي تخنیکي کورسونو د جوړولو، په وزارت کي دننه د امتحاناتو د کمېټې پر جوړولو او په پاکستان هیواد کي د امارتي املاکو لوی ریاست اړوند د افغان بلډینګ ودانۍ په تړاو هر اړخیز بحث او یو شمېر اړیني پرېکړي وسوې.
هېره دي نه وي، چي د ماليې وزارت اداري معینیت د رهبرۍ ناستي د چارو د لا مثبت اغېز او بدلون په موخه ترسره کېږي، چي دغه لړۍ به په راتلونکي کي هم دوام ومومي.




## د ماليې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (۲٦) شکایتونو ته رسېدنه کړې

د ماليې وزارت د کورنۍ پلټني لوی ریاست د شکایتونو اورېدو آمریت د دغه وزارت اړوند ټولو شکایتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډوني او د یو شمېر مسئولینو ناسم چلند ته د رسېدني مسئولیت په غاړه لري او ترلاسه سویو شکایتونو ته له ځنډ پرته رسېدنه کوي.
دغه آمریت د روان (۱۴۰۴) کال چنګاښ (سرطان) میاشتي له پیل څخه د دغي میاشتي تر پایه پوري په ټوله کي (۲٦) شکایتونه ترلاسه کړي او اورېدلي دي، چي له دې ډلي څخه (۲۱) شکایتونو ته رسېدنه سوې، (۳) تر کار لاندي دي او (۲) نور شکایتونه د کافي معلوماتو او شکایت کوونکو له لوري د اثباتیه اسنادو د نشتون له امله د دغي اداري له خوا بې بنسته ګڼل سوي دي.
له دې جملې (۱۱) شکایتونه د وټس آپ له لاري، (۴) د ټیلیفون له لاري او (۱۰) شکایتونه په حضوري بڼه له دې آمریت سره شریك سوي دي، چي یاد شکایتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې په برخو کي ول، چي د دغه آمریت له لوري پر وخت رسېدنه ورته سوې ده.
د یادوني وړ ده، چي ټول هیوادوال کولای سي، چي د ماليې وزارت د بېلابېلو څانګو په ځانګړې توګه د عوایدي سرچینو او د ګومارني په برخه کي د اصلاحاتو په تړاو خپل شکایتونه، وړاندیزونه او نظریات د برېښنالیك، وټس آپ، ټیلیفون، په حضوري بڼه او یا د شکایتونو د صندوق له لاري له دغه آمریت سره شریك کړي، چي د شکایتونو اورېدو آمریت به له ارزوني وروسته دغو شکایتونو ته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰ /۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳
وټس اپ نمبر: ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦
برېښنالیك: Officialcomplaints@mof.gov.af




## د ولایتي ګمرکونو له مسئولینو سره مشورتي ناسته وسوه

د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د ولایتي ګمرکونو له مسئولینو سره د ګمرکي چارو د لا ښه والي په موخه مشورتي ناسته د یاد معینیت د غونډو په تالار کي وسوه.
په دې ناسته کي د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مولوي محمد حامد احمد، د ګمرکونو لوی ریاست مرستیالانو، رئیسانو او د ولایتي ګمرکونو مسئولینو ګډون کړی وو.
په پیل کي د ګمرکونو او عوایدو معین په صادقانه ډول د چارو د تر سره کولو او د خپلمنځي همغږۍ په را منځته کېدو د ولایتي ګمرکونو له مسئولینو مننه وکړه. نوموړي د چارو د ښه والي په موخه د مسئولینو ترمنځ د مشورو، د سوداګرو او کارکوونکو د ستونزو اورېدو او پر خپل وخت سره د دوی ستونزو ته د رسېدني، په جدیت سره د احکامو او فرامینو د پلي کېدو، د ملي عوایدو له ضایع کېدو څخه د مخنیوي او د خپلو کارکوونکو له چارو څخه د څارني په برخو کي د ولایتي ګمرکونو مسئولینو ته سپارښتني وکړې.
ور پسې د تېر کال د مشورتي ناستي موضوعات و ارزول سول او همدارنګه د سوداګریزو توکو د چټکو طی مراحلو له پاره له اړوندو ادارو سره د لازمي همغږۍ په رامنځته کولو، په ګمرکونو کي سوداګرو ته د لازمو اسانتیاوو برابرولو، په هیواد کي د سوداګرۍ پر لا ودې، د هیواد په ګمرکونو کي د پراختیايي پروژو پر پلي کېدو، له ګمرکي سرغړونو څخه پر مخنیوي، د کارکوونکو د وړتیا پر لوړولو او یو شمېرو نورو اړوندو موضوعاتو بحث او سلا مشورې وسوې او په تړاو ئې لازمي پرېکړې وسوې.
د یادولو وړ ده، چي په دې ناسته کي د ولایتي ګمرکونو ستونزي هم واورېدل سوې، چي د ګمرکونو لوی ریاست د رهبرۍ له لوري د ژر حلولو ډاډ ورکړ سو.

## ریاست دعوت و ارشاد نشست هماهنگی را برای مسئولین وزارت مالیه دایر نمود

ریاست دعوت و ارشاد وزارت مالیه به اساس حکم (۲٦۲۴/۳۵۴) مؤرخ (۱۴۴٦/۰۵/۲۳) عالیقدر امیرالمومنین (حفظه الله) و تصمیم دهمین نشست هیئت دعوت و ارشاد، نشست اصلاحی را پیرامون "رازداری" برای آمرین و مدیران اداری و اجرائیه ریاست های مرکزی این وزارت دایر نمود.
در این نشست مفتی محمود الحسن عزیزی، رئیس دعوت و ارشاد ریاست عمومی استخبارات، مولوی عبدالهادی سیف الخالد، رئیس دعوت و ارشاد، مولوی وصیف احمد احمدی، آمر هماهنگی ادارات مرکزی و ولایتی ریاست دعوت ارشاد و شماری از مسئولین دیگر اشتراك داشتند.
آمر هماهنگی ادارات مرکزی و ولایتی ریاست دعوت و ارشاد در سخنان این نشست گفت، که هدف از برگزاری این نشست حفظ اسرار به مثابه یک امانت، پرهیز از غفلت و عملی کردن حکم رهبری امارت اسلامی افغانستان می باشد. با راز داری، اعتماد افزایش یافته و خطرات اداری کاهش می یابد.
رئیس دعوت و ارشاد ریاست عمومی استخبارات طی سخنانش گفت، حفظ اسرار یکی از اصول اساسی حکمرانی و کلیدی ترین فضایل اخلاقی محسوب میشود. حفظ اسرار حکومتی به امنیت ملی، افزایش اعتماد عمومی، پیشگیری از فساد، رعایت قوانین و حفظ اعتبار دولت کمک می کند. افشای راز راه را برای مداخله منفی و بی نظمی اداری هموار می کند. بر اساس حکم عالیقدر امیر المومنین (حفظه الله) راز ها را باید حفظ نموده و برای بقای این نظام خالصانه خدمت کنیم.
رئیس دعوت و ارشاد وزارت مالیه از اشتراك کنندگان اظهار قدردانی نموده خواهان همکاری های بیشتر شان در قسمت تطبیق حکم رهبری امارت اسلامی شد.

شتمني SHTAMANI اوونیزه

# جُرمي او تور اقتصاد

عبدالجبار وحدت
د ملي بوديجې عمومي رئيس

جُرمي او تور اقتصاد دوه بېلابېل اصطلاحات دي، مفهومونه ئې هم جلاجلا دي، مګر معمولاً په ډېريو بحثونو کې دا الفاظ مترادف کارول کېږي، په لويه کې ويلای سو، چې دواړه د ملي اقتصاد او فردي اقتصاد په زيان دي. جُرمي اقتصاد ټول هغه غير قانوني فعاليتونه په ځان کې رانغاړي، چې د قانون خلاف تر سره کېږي او د دولتونو له کنټرول، مالياتو له ورکړي او رسمي احصائيوي راپورونو څخه بهر وي، چې په دې کې انساني قاچاق، توري پيسې وينځل، نشه يي توکو کاروبار او د فساد تقريباً (۱۴) پېژندل سوي ډولونه شامل دي. جُرمي اقتصاد د رسمي اقتصاد په وړاندي يو موازي سيستم دئ، چې د دولتونو ثبات ګواښي او حاکميت کمزوری کوي.
او تور اقتصاد هغه غير رسمي او غير قانوني اقتصادي فعاليتونه دي، چې د دولت له مقرراتي، مالياتي او احصائيوي نظام څخه بهر ترسره کېږي. ممکن يو څوک قانوني محصول توليد کړي؛ خو د قانون خلاف تر سره کېږي؛ لکه: (د مالياتو نه ورکول، ناقانونه سوداګري او کارګر استثمار).
تور اقتصاد د دولت عوايدو ته تاوان رسوي او ټولنيز عدالت او روښتيا زيانمنوي.

**د تور او جُرمي اقتصاد تر منځ توپيرونه:**

ما د ليکني په پيل کي هم اشاره کړي ده، چي دا دواړه اصطلاحات په خپلو کي متفاوت دي، البته ځيني مشترکات هم لري، لکه دواړه د قانون خلاف فعاليتونه دي، همدارنګه جُرمي اقتصاد هغه فعاليتونه، چي په ښکاره ډول د قانون خلاف وي او جرم ګڼل کېږي او تور اقتصاد هغه فعاليتونه دي، چي له دولته پټ وي، خو حتماً ممکن جرم ونه ګڼل سي.
په جُرمي اقتصاد کي ټول فعاليت غير قانوني وي او د ماليې په ورکړه هم قانوني نه سي بلل کېدلای؛ مګر په تور اقتصاد کي قانوني توليد او محصول وي خو مقررات نه مراعاتوي (ماليه نه ورکوي).
په جُرمي اقتصاد کي د نا قانونه عوايدو لاسته راوړل هدف وي؛ مګر په تور اقتصاد کي د عوايدو زياتول هدف وي. ستونزه دا وي چي له ماليې فرار کوي، د جُرمي اقتصاد ښې بېلګې: جرم، انساني قاچاق، حرام کاروبارونه کېدلای سي او د تور اقتصاد ښه بېلګه: نا ثبتي سوي فابريکې کېدلای سي.
په لنډ ډول ويلی سو، چي هر جُرمي اقتصاد تور اقتصاد دئ، مګر هر تور اقتصاد جُرمي اقتصاد نه دئ، شرعاً او قانوناً يوه ته هم اجازه ځکه نسته چي د شريعت، عامه مصالحو او په لويه کي د ملي اقتصاد په ګټه نه دي، ياد فعاليتونه هم د شخص او هم ملي اقتصاد متضرروي.



**د جُرمي او تور اقتصاد د رامنځته کېدو لاملونه:**

- حکومتي فساد.
- د الله ج څخه د وېري کموالی
- د پوهي نه شتون
- اوږدمهاله جګړې
- اقتصادي نا برابري
- د مفسدينو د مجازاتو نه شتون
- د قانون حاکميت کمزورتيا

**د جُرمي او تور اقتصاد زيانونه /پايلي:**

- د ملي اقتصاد متضرر کېدل
- د ملي عوايدو کموالی
- د عامه خدماتو ټکني کېدل
- د ولس او دولت تر منځ فاصله رامنځته کېدل
- د قانون د تطبيق مخنيوی
- د ټولنيز باور کمښت
- د شخړو زياتوالی
- د بې وزلی زياتېدل
- د قانوني اقتصاد خرابېدل

**حل لاري( د جُرمي او تور اقتصاد په وړاندي مبارزه):**

- شرعي پوهاوی او وعيدونه بيانول
- د شفافي اداري رامنځته کول
- د اقتصادي فرصتونو برابرول
- د قانون جدي تطبيقول
- د جُرمي اقتصاد د عاملينو سخت مجازات کول
- مالي سيستمونه داسي جوړول، چي د فساد کچه په مراتبو راټيټه کړي
- ټولي هغه صرافی چي د تور او جُرمي اقتصاد په رامنځته کېدو کي رول لري، جدي څارل او فعاليتونه ئې محدودول
- د هر ډول فساد په وړاندي جدي مبارزه کول.
محدودول
- د هر ډول فساد پر وړاندي جدي مبارزه کول.

## یک مقدار مواد خوراکی تاریخ تیر در گمرک سرحدی اسلام قلعه حریق گردید

به مقدار (۱۷،۵) تن مواد خوراکی تاریخ تیر شده در گمرک سرحدی اسلام قلعه ولایت هرات، با هماهنگی ادارات ولایتی، که در هنگرهای گمرک متذکره موجود بود، با حضور داشت نمایندگان با صلاحیت ادارات مربوطه حریق گردید.



قابل ذکر است، که مقداری از این مواد به صورت قاچاق وارد کشور شده و مقدار دیگر آن نیز از کشورهای خارجی که تاریخ آن گذشته بود وارد کشور گردیده بود و در هنگر های گمرک نگهداری میگردید.


# اعلانات داوطلبی

**اعلان داوطلبی**

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه ء ) تهیه و تدارک کارتریج برای گمرکات ) دارای نمبر تشخیصیه ۱۳۹۹-NCB/G/۱٤۰٤/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط سند طی مراحل و درج شرایط بیع بالتقسیط، قانون عقود اجراء میگردد بدست آورند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱۱/ اسد/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۱٦/اسد/۱٤۰٤ ساعت ۰۹:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
رهن/ تضمین آفر : به مبلغ ۱،۵۰۰،۰۰۰ (یک میلیون و پنجصد هزار) افغانی میباشد.
آدرس: ریاست تدارکات، وزارت مالیه، پشتونستان وات، کابل، افغانستان
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود

**دعوت به داوطلبی**

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه ء(اعمار دیوار احاطوی و ترمیم پوسته امنیتی مستوفیت ولایت نورستان) دارای نمبرتشخیصیه ۱٤۰٤/MOF/ ۱۸۹۸-NCB/W که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط سند طی مراحل و درج شرایط بیع بالتقسیط و قانون عقود اجراء میگردد بدست آورند.
تاریخ مشخص جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ ۱۲/اسد/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۱۸/ اسد/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
(رهن) تضمین آفر : به مبلغ ۲۸،۰۰۰ (بیست هشت هزار) افغانی میباشد.
آدرس: آمریت ترتیب اسناد تدارکاتی و آفرگشایی، ریاست تدارکات، معینیت اداری وزارت مالیه
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود

**اعلان داوطلبی**

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه دوکاکین و یک باب موترشوئی ذیل واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی میسپارد، مدت(۲) سال.
۱.یک باب دوکان نمبر ۱ به مساحت ۲۱,۱۲ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۸۰۰۰) افغانی.
۲.یک باب دوکان نمبر ۲ به مساحت ٤٥,۲٤ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۹۰۰۰) افغانی.
۳.یک باب دوکان نمبر ۳ به مساحت ۳۷,۱۲ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۸۰۰۰) افغانی.
٤.یک باب دوکان نمبر ٤ به مساحت ۳۷,۱۲ مترمربع واقع سمت دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۲۰۰۰) افغانی.
٥.یک باب دوکان نمبر ٥ به مساحت ۳۷,۱۲ مترمربع واقع سمت دروزاه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۸۰۰۰) افغانی.
٦.یک باب دوکان نمبر ٦ به مساحت ۳۹,٤٤ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۱۰۰۰) افغانی.
۷.یک باب دوکان نمبر۷ به مساحت ۳۹,٤٤ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهان مبلغ(۱۱۰۰۰) افغانی.
۸.یک باب دوکان نمبر۸ به مساحت ٤۰,٦۰ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدئی ماهانه مبلغ ( ۱٥۰۰۰) افغانی.
۹.دوکان نمبر ۹و۱۰ به مساحت ٦٤,٦٥ مترمربع واقع سمت جنوب دیوار نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱٦۰۰۰) افغانی.
۱۰.دوکان و گدام بنام نمبر ۱۲ و۱۱ بمساحت ٥۸,۹۸ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۸۰۰۰) افغانی.
۱۱.یک باب دوکان نمبر ۱۳ به مساحت ٤۱,۷۸ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۰۰۰۰) افغانی.
۱۲.دوکان نمبر ۱٤ و ۱٥ به مساحت ۸۳,٥۲ مترمربع واقع سمت دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۲۰۰۰۰) افغانی.
۱۳.یک باب دوکان نمبر ۱٦ به مساحت ٤۱,۷٦ مترمربع واقع سمت دروزاه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۰۰۰۰) افغانی.
۱٤.یک باب دوکان نمبر ۲۱ به مساحت ۳۷,۱۲ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۷۹۰۰) افغانی.
۱٥.موترشوئی به مساحت۲۷٥,۳٦ مترمربع واقع سمت جنوب دروازه نساجی بگرامی جوار سرک عمومی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٤٤۸۰۰) افغانی. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲٤۷۲٥٥٤۹ ۳٤,٥۰۳۷۳۲٦٦
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۸/ اسد / ۱۴۰۴ الی ۲۱ اسد / ۱۴۰۴) به مدت (۱۴) روز به ریاست عمومی املاک امارتی واقع منزل چهارم تعمیر۱٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند. آدرس :سینما پامیرتعمیر۱۴منزله،منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز، شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷) ، تاریخ مجلس داوطلبی۲۲/ اسد / ۱۴۰۴ ساعت۱۰:۰۰ قبل از ظهر برگزار میگردد

**دعوت به داوطلبی**

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه ء(تامین برق تعمیر جدید گمرک میدان هوائی کابل) دارای نمبرتشخیصیه ۱٤۰۳-NCB/W/۱٤۰٤/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط سند طی مراحل و درج شرایط بیع بالتقسیط و قانون عقود اجراء میگردد بدست آورند.
تاریخ مشخص جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ ۱۱/اسد/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۱٦/اسد/۱٤۰٤ ساعت ۱۱:۰۰ قبل از ظهر می باشد.
(رهن) تضمین آفر: به مبلغ ٤٦،۰۰۰ (چهل شش هزار) افغانی می باشد.
آدرس: آمریت ترتیب اسناد تدارکاتی و آفرگشایی، ریاست تدارکات، معینیت اداری وزارت مالیه
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦
.
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز خښتن: د مالیې وزارت
مسئول مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)






## Maulawi Ahmad to PM: "Customs Revenues Increase Gradually with Complete Transparency"

The Directors of Customs met with the Prime Minister of IEA, Alhaj Mullah Mohammad Hasan Akhund, in the presence of the Minister of Finance, Alhaj Mullah Mohammad Naser Akhund, and the Director General of Customs, Alhaj Maulawi Mohammad Hamid Ahmad. At the beginning, the Minister of Finance assured the PM of IEA of the proper conduct of daily affairs, and then, on behalf of the directors of customs, the Director General of Customs said representatively that customs revenues are increasing day by day and are being transferred to the treasury with complete transparency. "We have increased the working hours at the customs, which has led to an increase in trade and the processing of trade goods on time", added Maulawi Ahmad. PM, in addition to expressing gratitude and appreciation for the honest actions of the customs officials, made necessary recommendations to the customs officials in terms of good behaviors with people, particularly traders. It is worth noting that customs officials were invited to the capital Kabul for a consultative meeting to further improve customs affairs.

## MoF Inks Over 366 mln Afs Contract for Building Park in Bagh-e- Bala as AOP Attends Meeting

MoF and Habibullah Zazai Corporation signed a contract to build a park in Bagh-e- Bala area. The meeting held in this regard was attended by the Deputy Minister of Finance for Administration affairs, Maulawi Dost Mohammad Mukhlis, the Deputy Director General for Policy of IEA of AOP, Maulawi Abdul Bari Atif, and the Director of Habibullah Zazai Corporation. The contract for the construction of 'Bagh-e-Bala Park' in the fourth district of Kabul city related to the Ministry of Finance, which was previously approved by the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, (No: 406, dated 2025/Jul/16 - 20/1/1447) was signed. The park, which has an area of 160 Jeribs, has been approved for a period of 20 years with an investment of 366,892,890 Afs, of which two years will be the construction period and 18 years will be the profit-taking period. MoF estimation shows that during the profit-taking period of the corporation, the IEA's share of the gross revenue has been determined to be 31% and the aforementioned corporation's share to be 69%. Notably, the construction of this park will not only enrich Kabul city, but also provide employment opportunities within the country, and increase the level of national revenue.

## General Directorate of Customs Launches Reconstruction Project of Cold Rooms Worth About 5 mln Afs at 4 Customs

The General Directorate of Customs of MoF has launched a project to reconstruct cold rooms at the customs of 'Herat, Nimroz, Khost and Nangarhar' worth 4.9 million Afs. "With the reconstruction of the cold rooms, many facilities will be provided for traders in the field of safe and better preservation of vegetables, fresh fruits, food and medicines", officials added. The cost of this project will be paid from the development budget of MoF, and its work will be completed within three months. Noticeably, various development projects have been implemented by MoF in order to modernize and reconstruct Afghanistan' customs offices, provide more facilities for traders,



and some of the projects are in the process of being implemented.




## افغانستان او پاکستان تر اوږدې مودې انتظار وروسته د «ترجیحي سوداګرۍ» تړون لاسلیک کړ





د بیزنیس ریکارډر ـ BUSINESS RECORDER په نوم یوې پاکستانۍ رسنۍ په راپور کې د افغانستان او پاکستان تر منځ د سوداګرۍ منځپانګه ځانګړې سوې وه، چې وایي تر اوږدې مودې انتظار وروسته افغانستان او پاکستان د ترجیحي سوداګرۍ تړون ـ PTA لاسلیک کړ. په خبر کې راغلي، چې تړون د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ مرستیال وزیر ملا احمدالله زاهد او د پاکستان د سوداګرۍ سکرتر جاوید پاول له خوا لاسلیک سو. په متن کې د ترجیحي سوداګرۍ تړون په اړه داسې وضاحت راغلی دئ: «پاکستان به د افغانستان پر څلورو مهمو کرنیزو صادراتو؛ لکه: انګورو، انارو، منو او رومیانو تعرفې را کمې کړي او په مقابل کې به ئې افغانستان هم پر څلورو پاکستاني محصولاتو؛ لکه: ام، نارنج (کینو)، کېلو او پټاټو/ کچالو تعرفې راکښته کړي.» وایي له دې تړون څخه مخکې پر یادو توکو ٪(٦۰) تعرفې وې، چې اوس ٪(۲۷) ته راټیټې سوې. بیزنیس ریکارډر زیاتوي، دا یو کلن تړون، چې له (۱/ اګسټ/ ۲۰۲۵)ز څخه نافذ دئ او د تمدید وړ دئ، نو وایي ممکن په راتلونکي کې اضافي توکي هم په کښې شامل سي. وریسې لیکي، چې د پخواني محصول پروګرام ـ EHP تر چتر لاندې به افغانستان (٤۰۰,۰۰۰) ټنه رومیان د ٪(۲۲) محصول په اندازه، (۲۳۰,۰۰۰) ټنه انګور، (۱۰۰,۰۰۰) ټنه منې او (۱۰۰,۰۰۰) ټنه انار د ٪(۲۷) محصول په اندازه صادر کړي. په مقابل کې به پاکستان (٤۰۰,۰۰۰) ټنه پټاټې/ کچالو د ٪(۲۲) محصول په اندازه؛ کینو (نارنج)، کېلې (۲۳۰,۰۰۰) او (۱۰۰,۰۰۰) ټنه ام د ٪(۲۷) محصول په اندازه صادر کړي. راپور په وروستیو څو کرښو کې دا خبره هم ذکر کوي، چې د ترجیحي سوداګرۍ د دې تړون د پلي کېدو او څارني له پاره د پاک ـ افغان ګډه کمېټه به هم جوړه سي، کوم چې استازي به ئې د دواړو هیوادونو د ګمرکونو او کرني وزارتونو له مدرکه وي او کمېټه به هره میاشت غونډه کوي.


### د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷٤٥۷٦٥۷٥٦ (+۹۳)
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



### د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.